مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۷ (از ۷ الی ۱۴ سرطان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........................................................................................ ۳


## سخنان تکراری رئیس جمهور یا هشدارها


- انتقادات از آغاز تا اکنون ............................................................ ۴
- عوامل موقف‌گیری‌های رئیس جمهور ................................................... ۵




## پاکستان ته ورپېښ ګواښونه او وروستۍ هلې ځلې


- د افغانستان له حکومت سره د تفاهم هڅې ........................................................ ۷
- په شمالي وزیرستان کې عملیات او تر شا موخې .................................................... ۸
- افغانستان ته د وزیرستاني کډوالو راتګ او د پاکستان اندېښنې ..................................... ۹








## مقدمه

په دې ګڼه کې د افغانستان لپاره د امریکا او لوېدیځ د توطئو په تړاو، له یوې لوېدیزې رسنی سره د ولسمشر حامد کرزي د وروستی مرکې او همدارنګه په وزیرستان کې د پاکستاني پوځ د عملیاتو په پایله کې د افغانستان سوېل ختیزو ولایتونو ته د کډوالو راتګ او د پاکستان د وروستیو هلو ځلو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونی تحلیل د بورډ شننې لولئ.

* ولسمشر حامد کرزي له آتلانتیک مجلې سره په خپله وروستی مرکه کې ویلي، چې تېر ۱۳ کلونه په افغانستان کې له طالبانو سره جګړه نه؛ بلکې د امریکا او لوېدیځ له خوا د افغانستان پر وړاندې توطئه روانه ده. که څه هم د ولسمشر دغه امریکا ضد دریځ، اوس تر ډېره عادي شوی دی او یوازېنی دلیل یې همدا بلل کېږي، چې ګویا ولسمشر غواړي په راتلونکي کې د اتلولی نوم وګټي؛ خو دا خبره هومره هم ساده نه برېښي، چې یو ولسمشر دې دومره ستر اعتراضونه وکړي او کوم شواهد او دلایل دې هم ونه لري.

* دغه راز په شمالي وزیرستان سیمه کې د پاکستاني پوځ د عملیاتو له کبله د ډېورند فرضي کرښې دې غاړې ته د دغې سیمې د بې ځایه شوو وګړو راکوچېدل او په اړه یې د پاکستان اندېښنې هغه موضوعات دي، چې له امله یې پاکستاني لوري په دې وروستیو کې له افغان لوري سره د تفاهم هڅې پیل کړې دي. په همدې موخه د پاکستاني لوري یوه پلاوي کابل ته سفر وکړ او ترې وروسته د افغانستان د ملي امنیت سلاکار رنګین دادفر سپنتا هم اسلام اباد ته ولاړ او له پاکستاني چارواکو سره یې په دې اړه خبرې اترې وکړې. همدا موضوعات، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونی تحلیل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

## سخنان تکراری رئیس جمهور یا هشدارها



حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان یک بار دیگر در مصاحبهٔ خود با یکی از رسانه‌های غربی، جنگ سیزده ساله با طالبان در افغانستان را توطئهٔ امریکا و غرب خوانده و گفته است که هدف امریکایی‌ها و غربی‌ها از این جنگ، عملی کردن طرح‌های شان در منطقه است.

اینکه حدود یک ماه به پایان ریاست جمهوری حامدکرزی باقی مانده است، بیشتر گفته می‌شود که رئیس جمهور با همچو اظهارات می‌خواهد، خود را قهرمان جلوه دهد. اما پرسش این است که رئیس جمهور با این سخنان خود چه پیامی را می‌رساند؟ و دلیل اصلی چنین اظهارات آقای کرزی چیست؟

### انتقادات از آغاز تا اکنون

رئیس جمهور افغانستان از چند سال بدین‌سو با موقف‌گیری‌های ضد امریکایی و غربی خواسته است، پیام‌هایی را به ملت افغانستان و دولتمردان آیندهٔ افغانستان برساند. آقای کرزی به گونه‌ای خواسته است تا ملت خود را، از بازی اصلی که از سوی غرب در افغانستان به راه انداخته شده است، باخبر بسازد.

اینکه رئیس جمهور در مدت‌های اخیر حکومت خود به مخالف غرب و امریکا روی آورده است، بعضی‌ها به این باور هستند که بدون شک رئیس جمهور کرزی در اوایل حکومت خود به خوبی می‌دانست که غربی‌ها چه دسیسه‌هایی را برای تضعیف کشور مان دارد، پس چرا در همان زمان‌ها از این دسیسه‌ها و توطئه‌ها یاد نمی‌کرد؟ و چرا به عنوان رئیس جمهور از همان آغاز کار، اقدامات جدی را روی دست نگرفت، تا در طول سال‌های گذشته این توطئه‌ها و دسیسه‌ها را، تا حدی کم‌تأثیر می‌کرد؟

آنان این گونه اقدامات و سخنان تند علیه یکدیگر را، تنها و تنها برای ذهنیت دادن اذهان عامه می‌دانند که گویا تنها جنبهٔ نمایشی دارد و به زعم آنان زیر کاسه نیم کاسه‌ای وجود دارد.

این پنداشت نیز اما بیشتر دقیق به نظر نمی‌رسد، چون از اقدامات ماه‌های اخیر آقای کرزی ظاهراً معلوم می‌شود که چیزهایی را درک کرده است و نمی‌خواهد با کتمان آنها، کشور خود را با چالش‌های جدی‌تری در آینده روبه‌رو کند. به همین دلیل رئیس جمهور کرزی از پنج سال بدین‌سو گاه‌گاهی همچو اظهارات تند در مورد توطئه‌های غرب را، بیان داشته است. و این پرسشی که او با غرب در تفاهم بود و طرح‌های آنان را می دانست، چرا در اوایل حکومت خود با طرح‌های ضد افغانستانی مخالفت نمی‌کرد؟ دلیلش این باشد که حامد کرزی و حکومتش در آن زمان به حدی نرسیده بود که انتقادات وی از امریکا زیان‌بار نباشد، ولی در سال‌های اخیر می‌داند که پایه‌های نظام در افغانستان، در مقایسه به سال‌های نخست محکم‌تر گردیده است.

اولین برخورد حامد کرزی با امریکا، در سال ۱۳۸۸ خورشیدی، پس از انتخابات ریاست جمهوری بود که بعد از تایید دور جدید ریاست جمهوری کرزی از سوی کاخ سفید (که براساس آن دولت آمریکا قبل از اعلان کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، کرزی را به عنوان رئیس جمهور منتخب افغانستان معرفی نموده بود) حامد کرزی در گفتگو با روزنامهٔ فرانسوی لوفیگارو از رفتارهای امریکا شدیدا انتقاد کرده و گفته بود که امریکا و متحدانش باید بدانند که دولت افغانستان یک دولت مستقل است و آزادانه می‌تواند در مسائل داخلی کشورش تصمیم‌گیری نماید. حامد کرزی گفته بود، درست است که گفته شده هرکس "نان دهد فرمان دهد" اما هیچ یک از ملت افغانستان تمایل ندارد که رئیس جمهور کشورش مطیع و سرسپردهٔ خارجی‌ها باشد.

بعد از آن، به ویژه در سال‌های اخیر هر فرصتی را غنیمت شمرده و امریکا و غرب را، به باد انتقاد گرفته است که از طریق آن به ملت و سیاستمداران افغانستان پیام‌هایی را رسانده تا آنها نیز این حقایق را در نظر بگیرند.

## عوامل موقف‌گیری‌های رئیس جمهور

هرچند مدت اندکی از ریاست جمهوری حامد کرزی باقی مانده است، ولی مهم این است که به هر صورت سخنان آقای کرزی به عنوان یک رئیس جمهور آنقدر هم عادی نیست که گویا او می‌خواهد قهرمان آینده باشد. پرسش این است که هدف اصلی رئیس جمهور از این اظهارات چیست؟

چنین اظهارات رئیس جمهور شاید برخاسته از چند دلیلی باشد؛ اول اینکه رئیس جمهور مسؤولیت خود را درک کرده و می‌خواهد عوامل اصلی سرنوشت تلخ کشور را افشا نماید. دوم اینکه او می‌خواهد جانشینان حکومت خود را از نیرنگ‌های امریکا و غرب آگاه بسازند تا برای بدست آوردن قدرت، کشور را قربانی دسایس غرب ننموده و راهی را برای بیرون آوردن از این حالت ویرانگر، جستجو نمایند. چون رئیس جمهور کرزی ممکن در چند سال حکومتداری خود، برای درک اهداف اصلی دوستان خارجی خود تلاش ورزیده باشد، در سال‌های اخیر می‌خواهد همان تجارب خود را به دیگران بیان کند.

فرمانروایان آینده نیز باید کم از کم به اظهاراتی که آقای کرزی در مورد نیت‌های نامیمون غرب و امریکا بیان داشته است، به دقت بنگرند و آنرا مورد توجه و تأمل خود قرار دهند. به حدی هم ساده و ممکن نیست که رئیس جمهور یک کشور بدون شواهد، استدلال و اسناد همچو اظهارات تندی را بیان دارد.

اصلاً خاموشی امریکا و جامعهٔ جهانی در برابر انتقادات تند رئیس جمهور بر همین حقایق مهر تأیید می‌گذارد و چنان می‌نماید که سخنان رئیس جمهور بر احساسات استوار نیست، بلکه رازهایی هستند که بر اساس تجارب او بدست آمده است.

آقای کرزی با امضاء کردن پیمان امنیتی احتمالاً امتیازاتی را بدست می‌آورد و در آن زمان بیشتر همین گونه مطرح می‌شد که گویا رئیس جمهور برای تضمین آیندهٔ خود چانه‌زنی می‌کند و در پایان کار پیمان را امضاء خواهد کرد، ولی معلوم شد که رئیس جمهور از ته دل با پیمان امنیتی مخالفت دارد. هرچند رئیس جمهور آینده بقای خود را در امضای این پیمان خواهد دید و آنرا امضاء خواهد کرد، اما رئیس جمهور آینده باید موقف‌گیری‌های رئیس جمهور کرزی را که ۱۳ سال با امریکایی‌ها و غربی‌ها بوده و دسیسه‌های آنان را در قبال افغانستان درک کرده است، در نظر گرفته از سیاست‌های غرب، خود را آگاه بسازد.

پس از فروپاشی رژیم طالبان، صدها هزار نفر در جنگ افغانستان کشته شده اند هنوز آمار دقیق از قربانیان این جنگ در دست نیست. اگر رئیس جمهور آینده نیز به توطئه‌های امریکا و غرب توجه نکند، جنگ امریکا در افغانستان بیشتر از این طولانی و افغانستان بیشتر قربانی این جنگ تحمیلی خواهد شد.

## پاکستان ته ورپېښ ګواښونه او وروستی هلې ځلې



په شمالي وزیرستان کې د پاکستان د اردو پوځي عملیاتو، که له یوې خوا د وسله والو جنګیالیو په وړاندې د پاکستان د حکومت د نوي دریځ او د دغه هېواد د ثبات په تړاو نوي تحلیلونه را ټوکولي؛ خو افغانستان ته د دغو عملیاتو له امله د کډوالو له راتګ سره، د دغو جګړو سیمه بیز اړخ هم اهمیت موندلی دی.

دا د شمالي وزیرستان پر قبایلو د پاکستاني پوځ لومړني علمیات او پوځي تحرکات نه دي؛ بلکې تر دې دمخه یې هم وخت ناوخت په دغو سیمو کې د پوځي علمیاتو او استخباراتي توطئو پر مټ، ګڼ شمېر قبایلي مشران وژلي او د ټولو نظامي خوځښتونو دلیل یې هم په دې سیمه کې له تروریزم سره د مبارزې پلمې وې. مګر دا چې په دغه سیمه کې دا ځل پراخ عملیات، په افغانستان کې د ټاکنو له کشمکشونو سره هم مهاله پیل شول، په اړه یې ډېرې پوښتنې بې ځوابه دي.

### د افغانستان له حکومت سره د تفاهم هڅې

په شمالي وزیرستان د بریدونو له پیل سره د ډیورنډ کرښې دې غاړې ته د پاکستان ضد طالبانو د ځواکمنېدو اندېښنې هم زیاتې شوې او د جګړې له سیمې څخه کډوال هم د افغانستان سوېل ختیزو ولایتونو ته راوکوچېدل، چې دې چارې د پاکستان اندېښنې هم زیاتې کړې دي. پاکستان اندېښنه لري، چې د طالبانو هسته او ځواک که د افغانستان او بهرنیانو لاس ته ورشي، پاکستان ته به یې ګواښونه جدي او زیات شي، چې په وروستیو پېښو کې یې د کراچۍ برید یوه بېلګه وه. داسې مهال بیا د سیمې استخبارات دغسې عملیات پلانولی شي او د همدغو وسله والو په مټ یې عملي کولی شي.

د نواز شریف په مشرۍ په اسلام آباد کې د نوي حکومت واک ته رسېدو او بالاخره په شمالي وزیرستان د عملیاتو له پیل سره، پاکستاني حکومت له افغان لورې سره د طالبانو پر وړاندې عملیاتو کې، د همکارۍ غوښتنه او د تفاهم هڅه وکړه؛ چې کابل ته د

پاکستان د حکومت د یوه پلاوي له سفر وروسته، د افغانستان د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار رنګین دادفر سپنتا هم، اسلام آباد ته ولاړ ترڅو د طالبانو پر وړاندې د اوسنۍ جګړې په اړه سلامشورې وکړي.

خو ښاغلي سپنتا اسلام آباد ته له سفر وروسته، په کابل کې خبریالانو ته د خپلو هغو شرطونو یادونه وکړه، چې دوی پاکستان ته وړاندې کړي وو او په ډاګه یې کړه، چې په پاکستان باور نه لري مګر دا چې د هغوی عملي همکاري ووینې. ښاغلي سپنتا په عین حال کې په هلمند کې په پراخو بریدونو کې، د پاکستان پر لاس لرلو هم نیوکه وکړه.

په داسې حال کې چې پاکستان اوس د افغانستان، هند، امریکا او ناټو له خوا ډېرې اندېښنې لري او په ورته وخت کې د افغانستان په ختیزو سیمو هم د پاکستان له خوا بریدونه روان دي، په اوسني حساس حالت کې د دواړو هېوادونو تر منځ د بې باورۍ په لازیاتېدو کې د پام وړ رول لري.

## په شمالي وزیرستان کې عملیات او تر شا موخې

پاکستان ته د وزیرستان له اړخه په تېرو څو کلونو کې زیانونه او ګواښونه متوجه دي او داسې ښکاري، چې د ځینې نورو عواملو ترڅنګ وزیرستان هم هغه سیمه ده، چې پاکستان یې د تباهۍ کندې ته نږدې کړی دی. له همدې امله دا سیمه د بېلابېلو وسله والو، دغه راز د پاکستاني پوځیانو او یا هم د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د بېلابېلو پوځي اقداماتو، د تمرکز ساحه هم وه.

بلخوا ویل کېږي چې د ملا فضل الله تر مشرۍ لاندې طالبانو باندې فشار راوړل، د پاکستاني طالبانو په رهبرۍ کې د پاکستان پوځ له خوا د درز اچولو هڅه او د خالد محسود (سجنا) په مشرۍ د پاکستاني طالبانو له یوې نوې ډلې سره د سولې خبرو اترو ته لاره هوارول هم د دغو عملیاتو یو هدف دی.

په ۲۰۰۱ کال کې له افغانستان څخه د ملامحمد عمر په مشرۍ د طالبانو د تګ او تیتېدو او بیا په ۲۰۰۹ کال کې د ډېورنډ د کرښې له هغې غاړې څخه د ملافضل الله په مشرۍ د پاکستاني طالبانو راتګ او تیتېدل تر یوه حده دا ځل بیا هم په همدغو قبایلي سیمو کې تکرار شول.

د پاکستان په دغو عملیاتو هم نیوکې دا دي، چې پوځ عمومي افکارو ته ناسم معلومات ورکوي او په ورځنیو جګړو کې د ګڼو وسله والو جنګیالیو په تېره بیا د اوزبېک جنګیالیو د وژلو ادعا کوي، په داسې حال کې چې هلته بهرني خبریالان نه پرېښودل کېږي او په عملیاتو کې اصلي زیان ولسي وګړي ویني؛ خو داسې ښکاري چې اوسني عملیات به هغه پایله ونه لري، چې پاکستان یې تمه لري.

د پاکستان بېلابېلې نقطې د داسې ډلو د بې خنده حضور شاهدې دي چې د سیمه ییزو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي. په تېر کې هم تل د قبایلي سیمو د اوسېدونکو په استعمالولو او یا هم د دوی په ځپلو کار شوی، په تېره بیا په افغانستان د روسي ځواکونو د یرغل پر مهال د امریکایي، سعودي او نورو استخباراتي ادارو له خوا، د نیابتي جګړو لپاره ګټه ترې پورته کېده.

له ۲۰۰۱ کال وروسته په افغانستان کې د نوي حکومت له واک ته رسېدو سره، له دغو سیمو څخه د افغانستان د حکومت پر وړاندې جګړې رهبري شوې؛ خو دا ځل یې د پاکستان د توقع خلاف د پاکستان لمن هم نیولې او اوس د پاکستان حکومت په پېچلو استخباراتي فعالیتونو او تاوتریخجنو اقداماتو سره، له دغو ګواښونو څخه د پاکستان د ژغورلو هڅه کوي.

## افغانستان ته د وزیرستاني کډوالو راتګ او د پاکستان اندېښنې

په شمالي وزیرستان کې د بې ګناه وګړو پر وړاندې د دغې استخباراتي دسیسې او تپل شوې جګړې له امله شاوخوا پنځه لکه تنه بې ځایه شوي، چې له دې جملې له اویا زره تنو زیات یې د ډیورنډ فرضي کرښې دې غاړې ته راغلي دي.

د پولیو ناروغی خپرېدل هغه وېره وه، چې د دغو بې ځایه کېدنو د لړی په لومړي سر کې مطرح شوه. د دې تر څنګ یو شمېر افغان رسنیو، افغانستان ته له راغلو کډوالو سره د وسلو د شتون په اړه هم اندېښنې وښودې؛ خو له دې ټولو سره سره په افغانستان کې د دغو بې ځایه شوو کډوالو تود هرکلی وشو او پراخې مرستې ورسره وشوې.

که څه هم د پاکستان پوځ د شمالي وزیرستان اوسېدونکو ته له سیمې څخه د وتلو یوه موده ټاکلې وه خو ورته ویلې یې وو، چې کله له سیمې وځي نو افغانستان ته به نه ځي؛ ځکه پاکستان ته د وزیرستان د کډوالو کنټرولول په راتلونکي کې ستونزمن دي او له دې لارې د ډېرو ګواښونو اندېښنې ورسره دي؛ خو بیا هم یو زیات شمېر وزیرستانیان د ډیورنډ فرضي کرښې دې غاړې ته راکډه شول، چې ښایي له امله یې پاکستان په راتلونکي کې د سترو بدلونونو شاهد وي. پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com – info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)